education above all | التعليم فوق الجميع

# خپل شعر جوړ کړئ

| | |
|---|---|
| **توضیحات:** | زده کوونکي د شعرونو په مختلفو برخو ، تشبیه، قافیه او وزن لرونکو کلمو په پوهیدلو سره کولی شي خپل شعرونه ولیکي. |
| **مخکښه پوښتنه** | آیا زه کولی شم چې پخپله یو  شعر ولیکم؟ |
| **ټولټال اړین وخت** | ۵ ساعته په ۴ ورځو کې |
| **اړین توکي** | پنسل، کاغذ، رنګې، او یا هم روغني رنګې |
| **د زده کړو پایلې** | - د عامو متنونو پیژندنه (لکه یو شعر)<br>د کلمو پوهه – د عام فهمه کلموه پیژندنه<br>د کلمو د غږونو پیژندنه<br>د د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلمو پیژندنه<br>د لوړ فریکونسۍ سره د څو کلمو خپلواکه لیکنه<br>قافیه کرونکو په کلمو پوهیدل<br>د خوړو او یا موسم پورې اړوندو تجروبو د تشریح کولو لپاره د لیکنې او رسامۍ له ترکیب څخه کار واخلئ. |
| **مخکیني درسونو ته اړتیا** | هیڅ |


## لمړۍ ورځ

یوه جمله چې د ورځې هدف بیانوي.

| **ټاکل شوی وخت** | **فعالیت او توضیحات** |
|---|---|
| **۲۰ دقیقې** | زده کوونکي به یو احساساتي شعر کشف او جوړ کړي<br>**احساساتي شعر:** زده کوونکي کولی شي د لاندې انتخابونو  (بیلګو) څخه د خپل شعر موضوع انتخاب کړي. لکه:<br>- د دوی د خوښې موسم: اوړی، ژمی، پسرلی، او داسې نور.<br>- د دوی د خوښې خواړه: کیک، چپس، سینډوچ او داسې نور. |

زده کوونکي د خپلې موضوع عنوان د ورقې په منځنۍ برخه کې لیکي. له هغې څخه وروسته، زده کوونکي د موضوع په اړه خپل احساسات، هغه څه چې ویني، اوري او یا یې محسوس کوي لیکي او یا یې رسم کوي.

په لاندې بیلګه کې د (زه یې اورم) برخه شاید ډېره مفیده نه وي. په داسې مواردو کې زده کوونکي کولی شي متباقي برخې ډکې کړی.




د لاندې جوړښت په کارولو سره دوی کولی شي چې خپل احساسات د شعر په شکل کې دوباره ووايي. (زده کوونکي وهڅوئ چې د امکان تر حده شعرونو ته توصیفي بڼه ورکړي.)

*زه وینم چې ......*

*زه حس کوم چې .....*

*زه اورم چې .....*

*زه بویوم چې ...*

*زه څکمه چې ....*

زده کوونکي وهڅوئ چې مختلفو خلکو ته خپل شعرونه واوروي او د دوی د شعرونو په اړه د هغوی ارزوونه او عکس العمل ته ځیر شي (دوی کولی شي چې د ایموجې (شکلونو) څخه هم کار واخلي ترڅو د خلکو عکسل العمل انځور کړي).

نظر ورکوونه: ددوی د نې ورځې فعالیت په نظر کې نیولو سره، له هغوی څخه وپوښتئ چې:

د شعر دوه ځانګړتیاوي نوټ کړي ( په دې معنی چې: هغوی په خپل شعر کې خپل احساسات بیانوي، له انځورونو څخه استفاده کوي، او هیڅ کله هم د ربط توري نه کاروي، او داسې نور.)

زده کوونکي وهڅوئ چې د شعرونو او نورو مختلفو متنونو ترمنځ د توپیر په اړه فکر وکړي (لکه د ټوکو کتابونه، لنډې کیسې، سندرې، اخبار او داسې نور.)


# دوهمه ورځ

زد کوونکې باید د خپلو کورنیو سره د لوبو ترسره کولو کې قافیه لرونکې کلماتو په مفهوم ځان پوه کړي

| ټاکل شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |
| ۱۰ دقیقې | **قافیه لرونکی توپ**<br>مور او پلار  او یا هم خور او ورور کولی شي د یو توپ پواسطه لوبه ترسره کړي. مور او پلار دوه کلمې وایې.  کچیرته دا کلمې قافیه ولري، زده کوونکی به توپ بیرته والدینو ته اچوي او یا به یې له ځانه سره ساتي. د بیلګې په توګه:  کچیرته ته دوه قافیه لرونکې کلمې وواېي  لکه، کتاب او حساب نو زده کوونکی به توپ بیرته تاته اچوي او که چیرته ته دوه داسې کلمې چې هم قافیه ونه اوسې وواېي لکه کتاب او قلم، زده کوونکی به توپ تاته نه اچوي او له ځانه سره به یې ساتي.<br>زده کوونکي اوس کولی شي چې د هم قافیه کلمو په کارولو سره په خپل منځ کې دغه لوبه ترسره کړي. د مثال په توګه: زده کوونکي به وایې چې وفا او توپ به والدینو ته اچوي او والدین به د همدغې کلمې هم قافیه بله کلمه وایې لکه جفا او توپ به بیرته دوی ته اچوي. او داسې نور... |
| ۱۰ دقیقې | **د تعداد توسعه:**<br>هرځل چې کلمه لوستل کیږي، زده کوونکې به کلمه نوټ کوي او بیا به توپ اچوي. په آخر کې به زده کوونکې دا وشمیري چې توپ څو ځله بغیر له تم کیدلو د یو هم قافیه لرونکې کلمې لپاره اچول شوی دی. د مثال په توګه: لاندې کلمې لکه وفا، جفا، او دې ته ورته نورې کلمې چې په ف او الف ختمې شوې وي څو وار کارول شوي دي. مثلا هغه کلمې چې په ف او الف ختمې شوي ۵ ځله او هغه کلمې چې به ب او الف ختمې شوي وي ۸ ځلې او داسې نور<br><br>په آخر کې به زده کوونکې د ټولو هم قافیه کلمو تعداد سره جمع کړي چې په لوبه کې ویل شوي وي:<br>لکه: ۸ + ۳ + ۶ = ۱۷ |

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقيقې | زده کوونکي بايد د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلماتو په کارونې ځان پوه کړي. او په همدا راز، دوی بايد دا  قافيه لرونکي کلمات د خپلو کيسو په کتابونو کې وليکي.<br>بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي هغه کلمه ده چې له دريو حروفو څخه جوړه شوې وي. اول او دريم حرف يې بايد بې غږه توري وي او منځنی توری يې غږ لرونکی وي.<br>لکه:<br>قلم، موږک، غړپ، ټوپ<br>او داسې نور.<br>زده کوونکي بايد ۱۰ بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلمې د خپلو د کيسو له کتابونو او يا له کوم بل متن څخه ترلاسه کړي لکه: قلم، موږک، غړپ، ټوپ<br>او داسې نور.<br>زده کوونکي دې کوښښ وکړي چې ۱۰ بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي  کلمات وليکي او په مختلفو ډلو يې وويشي. د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي د کلمو ډله هغه کلمات دي چې په دوه يو قسم تورو ختم کيږي. لکه د  ”at“ ډله. په دې ډله (د کلماتو په ګروپ) کې په لاندې ډول کلمات شامل دي:<br>قلم، موږک، غړپ، ټوپ<br>او داسې نور.<br>اوس به زده کوونکي د ټولو بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي  کلمو ډلې وپېژني لکه: د OG ډله، چې داسې کلمات لري:  dog, log, fog.... او د  AD ډله چې داسې کلمات لري:  bad, mad, sad ... او د  AP ډله چې داسې کلمات لري: cap, map, tap... د  IP ډله چې داسې کلمات لري: sip, tip, hip .. او د  AB ډله لکه cab, dab, jab او داسې نور. |

3

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقيقې | زده کوونکي د ډلې آخرې تورې په قلم او يا هم  د توش پواسطه په ورقه باندې ليکي او لمړنيو تورو ته يې تغير ورکوي او ګوري چې آيا کومه کلمه ورځينه جوړيږي او که نه.<br><br> |

# دريمه ورځ

زده کوونکي بايد د قافيې او وزن په کارولو پوه شي

| تاکل شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | مور بايد هڅه وکړو ترڅو پوه شو چې د شعر او یا هم سندرې کومې برخې ته موږ وزن او قافيه راوستلی شو. زده کوونکي دې خپلې سترګې بندې کړي او د خپلې خوښې سندرې او یا هم نظم ته دې غوږ ونيسي. دوی به د هر قافيه لرونکي او وزن لرونکي کلمو لپاره خپل لاسونه پړکوي.<br><br>يادوونه: دا وزن او قافيه چې موږ ته په غريزوي ډول را رسيږي، هغه وزن او قافيه ده چې شعرونو کې کارول کيږي.<br><br><br>د رابرټ سټيبسن په دې شعر کې، د ژبې زده کونکي کولی شي تمرين وکړي چې څنګه موږ په لوړ غږ الفاظ ووایو، په ځینو غږونو ټینګار وکړو او په ځینو نورو یې ټینګار و نکړو.<br>په ژمي کې، زه د شپې لخوا له خوبه راپاڅیږي<br>او ژیړې شمع ته جامې اغوندم<br>په اوړې کې، په بشپړه بله توګه<br>زه باید د ورځې له لوري ویده شم<br>زه باید ویده شم او وګورم<br>مرغۍ اوس هم په ونه کې ټوپونه وهي<br>او یا هم د مشرانو د پښو ترپاری واورم<br>چې اوس هم په کوڅه کې تيريږي<br>زده کونکي باید په هغه ځایونو ټینګار وکړي  چې په لویو انګلیسي حروفو لیکل شوي دي. |

<table>
<tr>
<td></td>
<td>
په ژمي کې زه په تیاره کې له خوبه پورته کېږم<br>
دا جمله په لوړ غږ ووایاست چې دکلمو وزن او قافیه واورئ<br>
اوس همدا جمله په معکوس شکل ولولئ او ټینګار په نورو اوازونو واچوئ لکه<br>
په ژمي کې زه په تیاره کې له خوبه پورته کېږم<br>
تاسو ته دا جملې څنګه ښکاري؟ قافیه يې غلطه ده ا کلمې يې ناسمې بريښي.<br>
اوس د شعر دويمه مسره کې ښودل شوي چې باید په کومو کلمو ټينګار وشي:<br>
او ژېړي شمع ته خپلې جامې اغوندم<br>
زده کوونکي د شعر په لاندې مسرو کې ټينګار لرونکي او غیر ټينګار لرونکي اوازونه وپيژني. هغه توري چې ټينګار لرونکي وي په لویو تورو لکل کيږي او هغه توري چې ټينګار لرونکي نه وي په ورو تورو ليکل کيږي.<br>
زده کوونکي باید د قافيي مختلف ډولونه و پيژني.<br>
1. په بعضي شعرونو کې هر لاین (مسره) د مخکينۍ مسرې سره هم قافيه وي<br>
2. په بعضي شعرونو کې هر بدیل لاین (مسره) هم قافيه وي<br>
3. بغضي شعرونه هيڅ قافيه نه لري .... داسې شعرونو ته څه ويل کيږي؟
</td>
</tr>
<tr>
<td>10 دقيقې</td>
<td>
زده کوونکي وهڅوي چې د لاندې شعر په آخر کې هم قافيه کلمات پیدا کړي.<br>
<table>
<tr><td colspan="2">په لاندې شعر کې له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د کلمو د پای قیافه کرونکي کلمات معلوم کړي</td></tr>
<tr><td>د ګونګټې شعر</td><td>د یوه نهنګ کیسه</td></tr>
<tr><td>خدای په امان خدای په امان الوتونکې ګونګټې<br>خدای په امان خدای په امان په اسمان کې الوتونکې ګونګټې<br>ښه راغلاست ښکلې ګونګټې<br>خو ګونګټه چیرته لاړه ؟<br>زه وينم چې ګونګټه ژغ ژغ کوي<br>او اوس واقعا هم ګونګټه لاړه</td><td>یو قوي لوی نهنګ<br>په اوبو کې چکر ته ولاړ<br>د شین لوی او ژور سیند لاندې<br><br>هغه خپله لکۍ وخوځوله<br>هغه ناکامه نه شو<br>هغه زما په شان پیاوړی او شجاع دی</td></tr>
</table>
له زده کوونکو څخه وپوښتئ چې په پورته ذکر شوي شعر کې د قافيي کوم ډول کارول شوی دی.
</td>
</tr>
<tr>
<td>۲۰ دقيقې</td>
<td>
د نرسرې نظمونو بیا ويل<br>
زده کوونکي به له مشهورو نرسرې نظمونو څخه یو نظم د يادولو لپاره انتخاب کړي.<br>
1. له هغوی څخه وغواړئ چې یو نرسرې نظم په خپله خوښه انتخاب کړي<br>
2. دوی باید ټول قافیه لرونکي توروي معلوم کړي<br>
3. دوی باید نوي قافیه لرونکي کلمات جوړ کړي او په دويم رديف یا مسرې کې يې ځای پر ځای کړي.
</td>
</tr>
</table>

education above all | التعليم فوق الجميع

| | | | |
|---|---|---|---|
| څلیدونکی، څلیدونکی وړوکی ستوری<br>زه فکر کوم چې ته څه يې<br>د ځمکې پورته دومره جګ<br>څومره هم چې کوښښ وکړم تاته نه رسیږم | → | د بیلګې په توګه:<br>څلیدونکی، څلیدونکی وړوکی ستوری<br>زه فکر کوم چې ته څه يې<br>د ځمکې پورته دومره جګ<br>لکه د الماس په شان په آسمان کې | |

زده کوونکي کولی شي خپل قیافه لرونکي شعرونه خپلې کورنۍ او ټولګیوالو ته ووايي او د هغوی نظر او وړاندیزونه واخلي ترڅو خپلو شعرونو کې مثبت تغیرات راولي

| | |
|---|---|
| د بیلګې په توګه:<br>څلیدونکی، څلیدونکی وړوکی ستوری<br>زه فکر کوم چې ته څه يې<br>د ځمکې پورته دومره جګ<br>څومره هم چې کوښښ وکړم تاته نه رسیږم<br>→<br>څلیدونکی، څلیدونکی وړوکی ستوری<br>زه فکر کوم چې ته څه يې<br>د ځمکې پورته دومره جګ<br>لکه د الماس په شان په آسمان کې<br><br>زده کوونکي باید خپل جوړ شوی د نرسرۍ نظم خپلو کورنیو او ملګرو ته د نظرغوښتنې لپاره ووايي او بیا د هغوی د تبصرو یا نظرونو ته په پاملرنې سره په خپل نظمونو کې تغیرات راولي. | |

څلورمه ورځ

په وروستۍ ورځ کې به زده کوونکي په جوړیز ډول (د یو مشر یا کوم بل هم صنفي) سره د شعر جوړولو تمرین وکړي

| ټاکل شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | زده کوونکي دې د عنوان لپار یو د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلمه انتخاب کړي لکه: خولی ,پیاله ,خوګ او داسې نور. ا وروسته لدې، د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلمو له ډلو څخه ورته هم قافیه لرونکي کلمې انتخاب کړي د بیلګې په توګه: که عنوان پیشکه و اوسي، نو د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلمو ډله په په باید ختمه شي.<br>له زده کوونکو څخه وغواړئ چې ټول هغه لغاتونه چې په *at* ختمیږي سره راغونډ او درې خطه شعر ولیکي چې په همدغو کلمو باندې ختم شي. شعر باید د کیسې په بڼه ران و اوسي.<br><br>*یادوونه: زده کوونکو ته په کافي اندازه وخت ورکړئ چې له یو بل سره مشوره او فکر وکړي. که چې زده کوونکي کومه نظریه ترلاسه کړي، تاسو يې نوټ کړئ او هغوی سره د نظریاتو په تنظیم کولو کې مرسته وکړئ.* |



EAA تاسو ته بنه راغلاست وايي چې خپلې پروژې د پرمختګ لپاره خلاص کړئ، مهرباني وکړئ دا لینک وکاروئ:
9_9 https://forms.gle/LGAP9k1fMyJrKJN

| | |
|---|---|
| **۳۰ دقیقې** | کله چې زده کوونکي د ساده قافیه جوړونې سره آشنا شول، هغوی به د شعر له نورو عناصرو څخه د استفادې هڅه وکړي لکه: انځورونه، وزن او قافیه او داسې نور<br>1. زده کوونکي کولی شي لومړی د یوې موضوع په اړه فکر وکړي چې دوی ورسره علاقه لري. ځینې نظریات په لاندې ډول کیدلی شي:<br>1) د دوی د خوښې  حیوان<br>2) د دوی د خوښې شیان ترسره کول<br>3) د دوی د خوښې وړ شخص |
| | 2. زده کوونکي اوس د ټولو هغو کلمو یا نظرونو په اړه فکر کوي چې دوی  یېکولی شي د اصلي موضوع پورې وتړې او بیا یې ولیکي.<br>د مثال په توګه، که د دوی د خوښې حیوان خرگوش وي، دوی ممکن د لاندېکلمو په اړه فکر وکړي:<br>لکه: غیږ کې نیول، ,وړې لرونکی،خیزوهونکی ,ګازرې، او داسې نور.<br>زده کوونکي باید  هڅه وکړي  چې پورتنیو کلمو ته هم قافیه لغاتنه پیدا کړي. د مثال په توګه: غیږ کې نیول-د اوبو ډنډ ,خیز اچول-تم کول ,او داسې نور .<br>3. زده کوونکي باید د انځوریزو شیانو په اړه فکر وکړي، دبیلګې په توګه: دی څه ویني، اوري، بویوي، څکي او یا یې حس کوي. او دوی باید فکر وکړي چې دوی غواړي کوم ډول کیسه د شعر په بڼه وړاندې کړي.<br>4. کچیرته دوی هم قافیه لرونکي توري نه شي پیدا کولی، دوی کولی شي چې له خپل ځانه هم وزن لرونکي کلمات جوړ کړي.<br>5. په آخر کې باید زده کوونکي خپل شعرونه په مختلفو قافیوي ډولونو کې جوړ کړي. د بیلګې په توګه داسې شعر باید ولیکې چې دوهمه مسره یې قافیه او یا هم وزن ولري. یا داسې یو شعر چې درې واړه مسرې یې قافیه لرونکي وي. |
| **۱۰ دقیقې** | زده کوونکي به له خپلو کورنیو سره ټول هغه شعرونه شریکوي چې د اونۍ په اوږدو کې یې لیکلي دي او یو ځل بیا به د دې هر یو شاعرانه نظم، تال او انځورګرۍ په اړه فکر کوي.<br>په نهایت کې، زده کونکي به فکر وکړي چې د دوی کوم شعرونه غوره دي او ولې. |

## د ارزونې ځانګړتیاوې

- د الفبا  او د لیکل شویو کلمو او رسمونو  وضاحت
- د کلماتو مختلفو ډلو پیژندنه
- د بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلمو د غږونو پیژندنه. د شعر وزن، قافیه او انځورونې پیژندنه

## د آسانتیا لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولی شي په شعرونو کې یوازې په بې غږ لرونکو + غږ لرونکو + بې غږ لرونکي کلماتو تمرکز وکړي.

- ورته فعالیت د هرې لنډې ډلې لپاره تکرار کیدی شي
- الیټریشن: هغه جمله ده چې ډیری کلمې یې په یوه ډول حرف سره پیل کیږي. زده کوونکي کولی شي چې دغسې کلمات یا الیټریشن بیلګې وکاروي. د بیلګې په توګه:
  پیټر ځینې ښایسته ظروف پورته کړل
  په دې جمله کې د پ  غږ بار بار تکرار شوی دی.
- وزن او قافیه: په وزن او قافیه له یو بل سره خبرې اترې وکړئ.



EAA تاسو ته ښه راغلاست وايي چې خپلي پروژې د پرمختګ لپاره خلاص کړئ، مهرباني وکړئ دا لینک وکاروئ:
9_9 https://forms.gle/LGAP9k1fMyJrKJN